دلوړو زده کړو وزارت
کندهار پوهنتون
دعلمي چارو معاونیت

## د افغان-هند علمي څېړنیز مرکز د پرانیستني لنډ راپور

# د راپور لنډیز

نن سه شنبه د ۱۳۹۴/۱۲/۱۱ په کندهار پوهنتون کي د افغان-هند علمي څېړنیز مرکز پرانیستل سو چي د افغانستان-هند بنسټ له خوا "د څلوېښتو کالو له تاریخي پېښو څخه زده کړه "د نړۍ والي علمي څېړنغونډي په ویاړ جوړ سوی دئ. په یاده پرانیست غونډه کي دکندهار والي ښاغلی ډاکټر همایون عزیزي، په افغانستان کي د هند سفیر مانپریټ وهرا، په کندهار کي د هند قونسل نریندر پال سینګ، دکندهار پوهنتون رئیس دوکتور حضرت میر توتاخېل، مرستیالانو، د پوهنځیو رئیسانو او مشرانو استادانو ګډون کړی وو. د کندهار پوهنتون ریس حضرت میر طوطاخیل د هند سفیر ته د ښه راغلاست تر څنګ د هند هېواد د مرستو مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د هند دوست هېواد دې د کندهار په پوهنتون کې د بنسټیزو تاسیساتو تر څنګ د استادانو د ماستری او دوکتورا په برخه کې هم ځانګړي مرستي وکړي.

د کندهار والي ډاکتر همایون عزیزي د کندهار ولایت د خلکو په استازیتوب د هند سفیر او ورسره ملګرو ته ښه راغلاست ووایه او په تېرو ۱۳ کالو کې ئې د هند هېواد د هغو مرستو مننه وکړه چې د هېواد سره ئې په بېلابېلو برخو کي تر سره کړي دي.

د کندهار والي د افغان. هند علمي څېړنیز مرکز ته په اشاره د هند د سفیر څخه غوښتنه وکړه چې دیته ورته په نورو برخو او همدارنګه د استادانو د لاپرمختګ لپاره د ماسټري او دوکتورا په برخه کې ځانګړي مرستي وکړي.

په افغانستان کې د هند سفیر مانپریټ وهرا د هند هېواد د مرستو د دوام ډاډ ورکړ او ویې ویل چې تاسو له مونږ څخه هیله مه کوي بلکې را څخه یې وغواړئ تر څو ستاسو هره غوښتنه عملي کړو.

وروسته د هند سفیر، د کندهار والي، د پوهنتون ریس او په کندهار کې د هند قونسل د پټې په پریکولو سره د افغان. هند علمي څېړنیز مرکز پرانیست.

او همدارازد پوهنتون د کمپیوټر او انګرېزي زده کړي مرکز او د نه زورزیاتي او سولي له ننداړتون څخه هم لیدنه وسوه.









